مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر ۲۰۲۶/۰۴/۲۵

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(لسمه برخه)



(د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو کشر زوی شاه نواز بوټو)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۷)

### د شاه نواز بوټو وژل

شاه نواز بوټو او د هغه ورور میر مرتضا بوټو چې د لیبیا، سوریې، لبنان او افغانستان حکومتونو له ملاتړه برخمن وو، په ځانګړي توګه د افغان حکومت له استخباراتو سره یې ژورې اړیکې لرلې او په پاکستان کې یې د نوموړي اداري اوپراتیفي عملیات لیدلي وو چې له امله یې دواړه ورونه د استخباراتي اوپراتیفي کړنو تر اغېز لاندې راغلي وو، د بې‌نظیر بوټو وینا ده چې شاه نواز بوټو «له اطلاعاتي سیستمونو سره علاقه لرله او په دې برخه کې یې پراخه مطالعه کړې وه، یوه ورځ شاه نواز مورږ ته وویل: کله چې ته او میر پاکستان ته ستانه او [واکمن شئ] او په خپلو سیاسي کارونو لګیا شئ نو په یاد ولرئ چې یو وړوکی ورور هم لرئ چې هغه ته د اطلاعاتو د عمومي اداره ورسپارل به وکولی شي، ستاسو سره مرسته وکړي... نو دواړه په یاد ولرئ چې کله یې وخت راورسېږي زه هم یم.»[1]

سره له دې چې شاه نواز په استخباراتي چارو پوهیده او د خپل ځان د ساتنې په فکر کې ؤ خو په دې نه پوهیده چې د ده دښمن له ده هم پیاوړی او ځیرک دی، تر دې چې هغه به په خپل کور کې دننه ووژني.

[1]: بې‌نظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علي‌رضا عیاري. ۳۷۶مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې شاه نواز او مرتضا، په کابل کې د استوګنې پر مهال له دوو افغان خوېندو: ريحانې او فوزيې سره ودونه کړي وو، وروسته دا دوه ورونه له کابله له خپلو ميرمنو سره اروپا ته ولاړل چې مرتضا په سويس او شاه نواز په فرانسه کې استوګن شو. بېنظيره ليکي چې «دا دوه خوېندې ظاهراً ښکلې وې خو زه د دوی له باطنه بېخبره وم.»[2]

دغو ورونو چې د ضياء د رژيم خلاف يې پټې جګړې کړې وې نو جنرال ضياء د دوی د وژلو کلک هوډ درلود، شاه نواز فکر کاوه چې د ضياء لهخوا به په ډزو يا د چړې - چاقو په وسيله ووژل شي چې د دغه خطر د مخنيوي په موخه يې په فرانسه کې خپل ځان او خپلې خور بېنظير بوټو ته زغرې وپېرودلې، هغه بېنظيرې ته وويل:**«زه بايد په فرانسه کې دغه زغره واغوندم، ته نه پوهېږې چې ضياء کولی شي زما مخه دلته هم ونيسي... ما ته خبر رسيدلی چې ضياء زما د وژلو پلان لري.»**
بېنظير بوټو ليکي چې ما پر شاه نواز نيوکه وکړه چې اوس خو الذوالفقار ډله له کابله تللې ده، کلونه کېږي چې کوم عمل يې نه دی ترسره کړی. هغه موسکی شو، ويې ويل: **زه خپل اطلاعات لرم.**[3]

د ذوالفقارعلي بوټو ټوله کورنۍ چې په فرانسه کې د لنډې مودې لپاره سره راټول شوي وو، له بده مرغه دا مهال شاه نواز بوټو په خپل کور کې په مرموزه توګه ووژل شو. بېنظير بوټو چې د خپل ورور د مرګ په هکله يې ډېر څه ليدلي او په خواشينۍ سره يې د خپل ژوندليک په کتاب کې، هغه جريان ليکلی دی چې له دغو او نورو سرچينو څخه ځينې اړين مالومات رااخلو:

په فرانسه کې د شاه نواز بوټو او د هغه د ښځې ريحانې تر منځ اړيکې ښې نه وې، هغه غوښتل ريحانې ته طلاق ورکړي خو د دغه کار مخنيوی د بېنظيرې لهخوا وشو، هغې شانواز ته نصيحت وکړ او د خپلمنځي اړيکو د رغولو ښوونه يې ورته وکړه چې پايله يې ښه وه خو پای يې ډېر ناوړه او غمجن ؤ.

د شاه نواز بوټو له مرګ څو ساعته وړاندې، پرته له کوم ښکاره دليل څخه د هغه ښځې ريحانې خپل لېور مرتضا بوټو ته سپکې سپورې وويلې او هغه ته يې وويل: **«له دې کوره ووځئ دا کور زما دی.»**[4]
د شپې ۱۰ بجې وې چې بېنظيربوټو ته خبر ورسيد چې ورور يې څه خوړلي او حالت يې خطرناک دی. کله چې دوی د شاه نواز کور ته ورسيدل نو هغه ساه ورکړې وه. بېنظيره وايي:**... د شاه نواز بدن سوړ ؤ، خدای پوهېږي څومره وخت به د هغه مړی هلته پروت وي چې څوک ترې خبر هم نه وو، يو چا له موکې ګټه پورته کړې وه چې د هغه کاغذونه يې خواره واره کړي وو.**
بېنظيره وړاندې ليکي چې زه په هغه کور کې د ريحانې په لټون پسې شوم، هغه مې وليده، هغه داسې يوې ښځې ته نه وه ورته چې اوس اوس يې خپل مېړه له لاسه ورکړی وي او يا يې بېړنۍ مرسته ورسره کړې وي، هغې ځان ښه منظم او ښايسته برابر [سينګار] کړی ؤ؛ د کتان اوږد خت (کميس) يې يوه ګونځه هم نه درلوده، وېښتان يې ښه ګمنځ کړي وو، داسې چې يو تار وېښته يې له خپل ځايه نه ؤ اوښتی. څو ساعته وخت يې لګولی ؤ، تر څو دا ډول ځان چمتو او سمبال کړي. په داسې حال کې چې د ورور مړی مې پر ځمکه پروت ؤ.
هغه راغله او ماته يې په داسې سترګو وکتل چې يو څاڅکی اوښکه يې په سترګو کې نه و. شونډو يې وښورېدې خو ما څه نه شول اورېدلی. د ريحانې پر ځای، د هغې خور فوزيې وويل:**«زهر (سم) يې خوړلي دي زهر.»**
بېنظيره يې په دوام وايي چې مور. د هغوی په خبرو باور ونه کړ، **ولې شاه نواز ځانوژنه وکړي؟ هغه تېره شپه له بل هر وخته ډېر خوشاله ؤ، د خپلو راتلونکو نقشو د عملي کولو هيلهمن ؤ چې له هغو څخه يې د اګست په مياشت**

[2]: بېنظير بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: عليرضا عياري. ۳۸۳مخ
[3]: هماغه سرچينه. ۳۸۰مخ
[4]: هماغه سرچينه.۳۸۳مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**کې افغانستان ته د تللو هوډ هم درلود، آیا همدا یې دلیل ؤ؟ آیا ضیاء د هغه له نقشې خبر شوی ؤ چې مخکې له مخکې یې د هغه پلان شنډ کړ؟ یا دا چې سیاسي د خپلې خوښې دیکتاتور، ضیاء د خوشالۍ لپاره وواژه؟**[5]
**بېنظیره لیکي: مرتضا بوټو د شاه نواز د کور د پخلنځي (اشپزخانې) د څځولو په توکرۍ کې د زهرو یو خالي بوتل هغه مهال ولید،** کله چې ده هغه دسمال چې خپلې اوښکې یې پرې پاکې کړې وې د څځولو توکرۍ ته غورځاوه.[6]

ریحاني هځه وکړه له فرانسې په بېړه ووځي **«د هغې وکیل (ریچارډ بنون) وویل چې هغې غوښتل د امریکا سفر لپاره پاسپورټ ترلاسه کړي.»**[7] خو فرانسوي پولیسو ریحانه په دې تور ونیوله چې هغې له خپل مېړه سره د خطر پر مهال مرسته نه وه کړې، لکه څنګه چې د فرانسې قانون غوښتنه کوي.

پاکستان ته د شاه نواز د مرګ خبر ورسېد، حکومتپلوو خبري رسنیو د شاه نواز بوټو د مرګ په اړه ناوړه څرګندونې خپرولې چې ګواکې **هغه یو رواني ناروغ ؤ، قمارباز، شرابي او بداخلاقه کس ؤ، د نشې په حالت کې یې ځانه وژنه کړې ده.** خو طبي څېړنو د هغوی دا ادعاګانې باطلې کړې، د فرانسې پولیسو د شاه نواز د مرګ پر څېړنو لګیا وو.[8]

لکه څرنګه چې د پاکستان حکومتپلوه رسنیو د شاه نواز بوټو د مرګ په اړه ناسم مالومات خپرول، د شاه نواز مېرمنې ریحانې او د هغې مدافع وکیل ریچارډ بنون هماغه ډول څرګندونې کولې، بېنظیر بوټو لیکي: ... ولې ریحانې په پرلهپسې توګه ټینګار کاوه چې هغه ځانوژنه کړې ده؟ داسې دروونکې تور چې په اسلام کې [لوی ګناه بلل کېږي.]
د ریحانې وکیل بنون وویل چې د شاه نواز بوټو د مرګ لامل ځانوژنه ده.
هغه له دې هم وړاندې ولاړ ویې ویل چې **«شاه نواز بوټو یو دېر خپه او خوریدونکی کس ؤ چې په پرلهپسې توګه یې الکول (شراب) له ویلیم (Valium) سره ګډ څښل.»**[9]

بلې خوا داسې راپورونه خپاره شول چې نه یوازې په سېند، بلکې په ټول پاکستان کې د خواخوږۍ څپې رواني شوې، په حیرانوونکي ډول، د پاکستان کنټرولېدونکو رسنیو هم د خواخوږۍ لیکنې خپرې کړې، په ځانګړي ډول د Dawn ورځپاڼې یوه لیکنه دېره د پام وړ وه، ویل کېږي چې په لندن کې د خلکو ګوند (PPP) مرکزي دفتر ته د خواخوږۍ ټیلیفوني پیغامونه د سېلاب څېر روان وو. **د خواخوږۍ دغو پراخو څپو، پر ولسمشر جنرال ضیاء هم اغیز کړی دی هغه خبریالانو ته وویل چې د بوټو کورنۍ سره خپله غمشریکي کوي.**[10]

بېنظیر بوټو لیکي چې زموږ مصیبت پای نه درلود، زما د مور موټر د نورو دېرو موټرو له منځه غلا کړای شو او زما د پوستي(Post) کڅوړه چې د موټر په شاتنۍ چوکۍ کې ایښې وه هم غلا کړای شوه، زموږ وېره او خواشینې لاپسې زیاته شوه او د ناامنۍ احساس مو کاوه.[11]

د فرانسې پولیسو او عدلي طب له خپلو څېړنو او ګروېرنو وروسته وویل چې **شاه نواز د داسې ډول زهرو له امله مړ شوی چې د سورېې د استخباراتو اداري لهخوا کارول کېږي. په راپور کې ویل شوي چې بوټو یو داسې ځانګړي نادر**

[5]: بېنظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علیرضا عیاري. ۳۸۶مخ
[6]: هماغه سرچینه. ۳۸۷مخ
[7]:https://www.upi.com/Archives/1985/10/22/Pakistani-opposition-leader-Shah-Nawaz-Bhutto-found-dead-in/5148498801600/
[8]: هماغه سرچینه. ۳۸۸مخ
[9]:https://www.upi.com/Archives/1985/10/22/Pakistani-opposition-leader-Shah-Nawaz-Bhutto-found-dead-in/5148498801600/
[10]:https://www.indiatoday.in/magazine/international/story/19850815-tragedy-continues-to-stalk-bhutto-clan-with-mysterious-death-of-shahnawaz-in-cannes-770286-2013-12-29
[11]: بېنظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علیرضا عیاري. ۳۸۹مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**زهر خوړلي چې ډېر ژر انسان وژني او په وینه کې ډېرې لږې نښتې پاتې کېږي چې په اسانۍ سره نه موندل کېږي.**
ویل شوي چې پولیسو نږدې درې میاشتې وخت لګولی چې د شاه نواز بوټو له مړینې وروسته د هغه د مړي د عدلي او (Autopsy) معایناتو له لارې د زهرو دا ډول وپېژني.
د فرانسوي خبري اژانس له خوا خپاره شوي راپورونه وايي چې ... ۲۷ کلن شاه نواز بوټو او د هغه ۴۱ کلن ورور مرتضا بوټو، تل له ځان سره د دغو زهرو بوتلونه ساتل. وايي چې مرتضا بوټو په دمشق کې ژوند کاوه او دواړو ورونو د سوریې پاسپورټونه هم درلودل.[12]

ریحانه وروسته له شپږو میاشتو بند ښځه خوشې شوه او د امریکا د کالیفورنیا ایالت ته ولاړه. **داسې خبرې کېدلې چې ځینې مهمو چارواکو د هغې په خوشې کېدو کې رول لوبولی دی. دا هم ویل کېدل چې کله هغه کالیفورنیا ته ولاړه نو هلته یې ښه آرام او شانداره ژوند درلود.**[13]

د پورته مالوماتو پر بنسټ دې پایلې ته رسېږو چې د شاه نواز مرګ دوه بنسټیز عوامل لري چې د دواړو عواملو رامنځ ته کوونکي د هغه ښځې، ریحانې ته متوجه کېږي:
**لومړی: شوني ده چې شاه نواز بوټو د پاکستان د ای‌ایس‌ای او سي‌ای‌اې په ګډه همکارۍ د ریحانې په مرسته وژل شوی وي.**
**دويم: دا چې که شاه نواز بوټو ځانوژنه هم کړې وي، بنسټیز عامل یې د ریحانې ناوړه کورنۍ درېځ دی چې د خپل میړه پر وړاندې یې غوره کړی ؤ او هغه یې ځانوژنې ته اړ کړ او د مرګ پر مهال یې مرسته ونه کړه.**
**پورته دوه عوامل د لاندې دلایلو پر بنسټ تشریح او توجیه کېږي:**

۱ــ دا لومړی ځل نه ؤ چې د زهرو په وسیله د شاه نواز او مرتضا د وژلو هڅه شوې وه، له دې وړاندې په کابل کې هم، ای‌ایس‌ای کوښښ کړی ؤ دا دوه ورونه د ریحانې او فوزیې د یو نږدې او باوري کس لهخوا د زهرو په خوړلو ووژني چې بیا د مرتضا میرمنې فوزیې په ټینګار هغه کس له مرګه وژغورل شو. **د ریحانې او فوزیې د یو نږدې او باوري کس په لاس، په خوړو کې د زهرو ګډول او بیا د دغو دوو ورونو لهخوا د هغه مجرم ژغورل، دا ثابتوي چې دغو دوو ورونو په پېښه کې لاس درلود.**

۲ــ یوهېږو چې کله د یوې ښځې میړه مړ شي او کلونه کلونه ژوند یې سره کړي وي او د اولادونو خاوندان وي نو که ترمنځ یې ډېر جنجالونه هم وي، د خپل میړه پر مرګ به خامخا اوښکې تویې کړي ځکه چې هره ښځه د سړي په پرتله ډېره مهربانه او زړهسوانده ده **خو د ریحانې په څېره کې د خپل میړه پر مرګ هیڅ ډول د خواشینې څرک نه لګېده چې دا، دا مانا لري چې نه یوازې ریحانه د خپل میړه په مرګ خواشینې نه وه، بلکې بې‌تفاوته او بې‌پروا هم وه چې د نوموړې دا ډول حالت ښیي، هغه د خپل میړه په مرګ کې ونده لري.**

۳ــ شاه نواز بوټو او ورور یې چې د خو هېوادونو له استخباراتو سره په اړیکه کې وو، د سوریې له استخباراتو یې د خپلو ځانګړو موخو لپاره یو ډول خطرناک زهر ترلاسه کړي او په خپل کور کې ساتلي وو، شوني ده چې ریحانه به پرې خبره وي.
لکه څرنګه چې مرتضا بوټو د شاه نواز د کور د پخلنځي د ځځلو په ټوکرۍ کې د زهر خالي بوتل لیدلی ؤ، **کیدای شي په پخلنځي کې وژونکی زهر د ریحانې لهخوا په خوړو کې ګډ شوي وي ځکه چې د زهرو بوتل په پخلنځي کې لیدل شوی ؤ.**

[12]:https://www.upi.com/Archives/1985/10/22/Pakistani-opposition-leader-Shah-Nawaz-Bhutto-found-dead-in/5148498801600/
[13]:https://www.reddit.com/r/Sindh/comments/ommygv/today_is_shahnawaz_bhuttos_36th_barsee_were_still/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

۴ـ بې‌نظیر بوټو لیکي چي شاه نواز بوټو ساعتونه وړاندي ساه ورکړي او د هغه بدن سوړ ؤ... طبي مالومات وايي چي په تولیزه توګه، لږ تر لږه له، ۴ تر ۱۰ ساعتونو پوري، یو مړ شوی انسان خپل د بدن تودوخه له لاسه ورکوي.
**د شاه نواز پر مرګ د دومره اوږدو ساعتونو له تېرېدلو ښکاري چي ریحاني، ښه په ډاډه زړه، څه يي چي غوښتل ترسره کړي دي.**
د دې پر ځای چي ریحاني په بېړې سره د شاه نواز خپلوان خبر کړي وای، (د بې‌نظیرې په وینا) ساعتونه يي پر خپل سینګار تېر کړي وو.

۵ـ د شاه نواز له مرګ څو ورځي وروسته د هغه د مور موټر چي د ډېرو موټرو په منځ کي ولاړ ؤ او د بې‌نظیر بوټو پوستي اسناد هم په کي وو غلا کړای شو. **مانا دا چي په همدې نږدې سیمه کي يو څوک وو چي د شاه نواز په مرګ کي يي برخه لرله.**
یوې سرچیني India Today ته ویلي وو چي د پاکستان د استخباراتو یو افسر **(اظهر)** نومی (چي د ډنمارک د کوپنهاګن په پاکستاني سفارت کي د ډیپلوماتیک پوښ لاندې کار کاوه) د شاهنواز له مړیني یوه ورځ وروسته په کان ښار کي لیدل شوی و.[14]

۶ـ ریحاني هڅه وکړه له فرانسي څخه په بېړه ووځي، په داسي حال کي چي د هغې د مېړه پر مړي د پولیسو څېړني رواني وې.

۷ـ د سي‌ای‌اې د لاس لرلو یادونه مو ځکه وکړه چي بې‌نظیر بوټو پوښتنه کوي: آیا، د امریکا سي‌ای‌اې، د خپلي خوښي دیکتاتور، ضیاء د خوشالۍ لپاره شاه نواز ووژه؟
د سي‌ای‌اې لاسرسی د بوټو کورنی ته له دې کبله شونی بولم چي د دغو دوو خوېندو پلارګنی په امریکا کي اوسېدله، **کیدای شي سي‌ای‌اې، ریحانه د خپلي پلارګني له لارې د ډېرو پیسو په بدل کي د خپلو مېړونو وژلو ته لمسولي وي. کله چي ریحانه د امریکا کالیفورنیا ته ولاړه نو هلته يي ښه آرام او شانداره ژوند درلود.**

۸ـ هېښوونکي خو لا دا ده چي **د ریحاني وکیل (ریچارډ بنون) وروسته د هغې له خوښي کیدو څخه، د ریحاني له قوله ووېل چي شاه نواز بوټو وژل شوی دی.**[15]
د ریحاني ضد او نقیضي څرګندوني چي لومړی يي په محکمه کي په دې ټکي ټینګار کاوه چي شاه نواز ځان‌وژنه کړې ده او بیا وايي چي هغه وژل شوی دی. څه مانا لري؟

۹ـ ځیني څېړونکي وايي چي شاه نواز له خپلي مېرمني سره د (کورنی شخړو) له امله وژل شوی او يا يي ځان‌وژنه کړې ده. دا نظر ځکه د منلو نه دی چي ریحاني کولی شول په فرانسه کي له خپل مېړه څخه په ډېرې اسانی سره طلاق واخلي نو د کورنی شخړې له کبله د شاه نواز وژلو ته اړتیا نه پاتې کېده او د شاه نواز وژلو د ریحاني لپاره کومه ګټه هم نه لرله.

۱۰ـ شاه نواز هېڅ ډول روحي ناروغي نه درلوده چي هغه يي ځان‌وژني ته هڅولی وای، هغه ډېرې هیلي او راتلونکي پلانونه درلودل، داسي څه نه وو چي له امله يي ځان‌وژنه کړې وای.

۱۱ـ مثلاً دا ومنو چي شاه نواز په خپله زهر خوړلي وي نو د هغه د ځنکدن بد حالت به خامخا ریحاني لیدلی وي. پوښتنه دا ده چي ریحاني ولي د خپل مېړه د داسي سخت حالت پر مهال مرسته ونه کړه؟ ولي يي پولیسو او روغتون ته بېړنی

---


[14]:https://www.indiatoday.in/magazine/international/story/19850815-tragedy-continues-to-stalk-bhutto-clan-with-mysterious-death-of-shahnawaz-in-cannes-770286-2013-12-29
[15]: هماغه سرچینه. ۴۰۳مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

خبر ورنه کړ؟ تر دې چې د شاه نواز مړی يې په خپل حالت پرېښی ؤ، نه يې د هغې مړی سم کړی او نه يې پر څادر (روجايي) باند پوښلی (پټ) کړی ؤ.
د مرګ پر مهال، له شاه نواز سره د ريحانې د نه مرستې کولو جرم، د فرانسې په محاکمو کې هم ثابت شوی ؤ. **نو د مرګ پر مهال له خپل مېړه سره د ريحانې مرسته نه کول څه مانا لري؟ د ريحانې دا بې‌پروايي ښيي چې هغې خپل مېړه په خپل لاس وژلی دی، طبعي ده چې قاتل له خپل مقتول سره مرسته نه کوي.**

اوس نو دا پوښتنه رامنځ کېږي چې ولې ريحانه د خپل مېړه پر وړاندې دومره خائنه او بې‌وفا ښځه وه؟ موږ نه پوهېږو چې دا ښځه د افغانانو له کوم قوم څخه ده؟ ريحانه چې هر څوک وي، وي به خو دومره ويلی شو چې هغې په دغه ناوړه عمل سره ټول افغانان وشرمول.

د شاه نواز بوټو د مرګ په اړه خپله څېړنه په دې ټکي پای ته رسوم چې له دې څوک انکار نه شي کولی چې د ۲۸ کلن ځوان شاه نواز بوټو مرګ چې په هر ډول تر سره شوی وي، **ريحانه د هغه د مرګ مسؤليت پره غاړه لري**، ريحانه به ضرور په خپلو کړنو له امله خدای تعالی او خپل وجدان ته شرمنده وي.



(کيڼي خوا ته ريحانه، ښي لور ته فوزيه د فصيح‌الدين لونه)

نېټه:۱۴۰۵/۲/۵ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلي محمد انور اځر نوري ليکني په دی لينک کي ولولي.]()


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ